# د حَجَّةُ الوداع

## ایمان تازه کوونکي واقعات

**29-June-2023**



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 29 جون كال 2023ء د پاكستان په هفته وارو اجتماعاتو كښې كيدونكے بيان

# د حَجَّةُ الوداع ايمان تازه كوونكي واقعات

په دې بيان كښې به تاسو زده كړئ...

- ... آقا كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره حجونه ادا كړي وو؟
- ...په حُجَّةُ الوداع كښې د انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام شركت
- ... آيا مَړي ژوندي كول ممكن دي؟
- ... والدين كريمين ئې صحابيان جوړ كړل
- ... د قصيده غوثيه بركت

پيشكش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بکر صديق رضی اللہ عنہ فرمائي: اوبه چې خومره زر وور مړ کوي، د **الله** پاک په آخري نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم باندې درود شريف لوستل د دې نه هم زر ګناهونه ورانوي [يعني معاف کوي] او په نبي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم باندې سلام ليږل د غلام آزادولو نه افضل دي. (1)

گرچہ ہیں بے حد قصور، تم ہو عَفُو و غفور | بخش دو جُرم و خطا! تم پہ کروڑوں درود(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته

---

1...تاریخ بغداد، جلد:7، صفحہ:172۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:266۔

داخلوي [1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښو ښو نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي راځئ چې د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به په ادب کښینم ❀ ښه په توجه به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حاجیانو د پاره د بخښنې زیرے

حَجَّةُ الوِدَاع (یعنې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم چې په ظاهري ژوند مبارک کښې کوم آخري حج ادا کړو، د هغه حج) موقع وه، باعثِ رحمت، مالکِ جنت صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په میدانِ عرفات کښې تشریف فرما وو، صحابئِ رسول حضرت عباس بن مِرداس رضی اللہ عنہ فرمائي: د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د شپې دُعا اوکړه (دا دُعا د چا د پاره وه او څه وه؟ فرمائي:) لِأُمَّتِهٖ بِالْمَغْفِرَةِ وَ الرَّحْمَةِ یعنې د دې دعائے مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم موضوع د هغوئي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم خوږ اُمت وو او هغوئي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د **الله** پاک نه د اُمت د بخښنې او رحمت سوال کولو. [2]

په یو روایت کښې دي: فَاَكْثَرَ الدُّعَاءَ [3] یعنې رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

---

1...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

2...ابنِ ماجہ، کتاب المناسک، باب الدعاء بعرفة، صفحہ:489، حدیث:3013۔

3...شُعَبُ الایمان، باب فی حشر...الخ، فصل فی القصاص من المظالم، جلد:1، صفحہ:304، حدیث:346۔

صرف يو ځل دُعا اونکړه بلکه بيا بيا ئې ډير ځل هم دا يوه دُعا کوله چې: مولیٰ! زما اُمت اوبخښې، اے رَبِّ کريمه! زما په اُمت باندې رحمتونه نازل کړې.

حضرت عباس رضی اللہ عنہ فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم چې کله بيا بيا دُعا اوکړه نو الله پاک وحي راوليږله، اوئې فرمائيل: اے محبوبه صلی اللہ علیہ والہ وسلم ! مونږه ستاسو دُعا قبوله کړه او ستاسو اُمت مو اوبخښلو خو ظالِم چې د هغه نه به د مظلوم بدله خامخا اخستے کيږي.

په دې باندې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په بارگاهِ اِلٰهي کښې عرض اوکړو: اے رَبِّ کريمه! که تهٔ اوغواړې نو مظلوم ته به جنت عطا کړې او ظالم به اوبخښې (يعني دغسې به مظلوم ته بدله هم ميلاو شي او په ظالم باندې به فضل او احسان هم اوشي).

حضرت عباس بن مِرداس رضی اللہ عنہ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم چې دا کومه دويمه دُعا غوښتې وه، په هغه شپه د الله پاک له خوا د دې هيڅ جواب رانغلو. بيا خوږ آقا، رسولِ خُدا صلی اللہ علیہ والہ وسلم مزدلفے ته تشريف يوړلو. د سحر وخت وو، ناڅاپه د خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په مخ باندې مُسکا خوره شوه، د مسلمانانو وړومبي او دويم خليفه حضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهما چې کله هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم په مُسکا اوليدل نو عرض ئې اوکړو: بِاَبِیْ اَنْتَ وَ اُمِّیْ اِنَّ هٰذِهٖ لَسَاعَةٌ مَا كُنْتَ تَضْحَكُ فِيْهَا يعني (يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم !) زمونږ مور پلار دې په تاسو باندې قربان شي، دا هاغه وخت دے په کوم چې تاسو عموماً نه مُسکي کيږئ فَمَا الَّذِیْ اَضْحَكَكَ، اَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ الله پاک دې تاسو هميشه مُسکے لري، نن څه اوشو چې تاسو د معمول خلاف مُسکي شوئ؟



www.dawateislami.net

رسولِ ذيشان، مكي مدني سلطان صلَّى الله علیهِ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: (ما د خپل اُمَّت د بخښنې دُعا کړې وه، **الله** پاک زما دُعا قبوله کړه او ټول اُمت ئې اوبخښلو) کله چې شيطان خبر شو چې رَبِّ کريم زما ټول اُمَّت بخښلے دے نو هغه په خپل سر باندې خاوره واچوله او وَيل او ثُبور غوښتلو سره (يعني د هئ هلاکت! هئ هلاکت! وئيلو سره) اوتښتيدو، زه د شيطان په دې وارخطائي ليدلو باندې مُسکے يم. [1]

| | |
|---|---|
| اِجابَت کا سہرا، عنایت کا جوڑا | دُلہن بن کے نکلی دُعائے مُحَمَّد |
| اِجابَت نے جھک کر گلے سے لگایا | بڑھی ناز سے جب دُعائے مُحَمَّد[2] |

**وضاحت:** يعني د دُعائے مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دا شان دے چې کله هم د مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ژبې مبارکې نه دعا ووځي نو قبليږي، د **الله** پاک په عناياتو د ناوې په شان ښائسته جوړه شوې ووځي او چې کله د بارګاهِ اِلٰهي په لور ځي نو قبوليت پخپله راتيټې شي او دعائے مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ته ورغاړه وځي.

## د حديثِ پاک مختصر شان وضاحت

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ علیہ د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: ظاهره دا ده چې دلته د اُمت نه مراد تر قيامته پورې حاجيان دي، په دې حالت کښې به د دعائے مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم معني دا وي چې: اے الله پاکه! تر قيامته پورې چې زما کوم اُمتي هم حج له راځي، هغه پوره پوره اوبخښې، د هغه هيڅ ګناه پاتې مه پريږدې. **الله** پاک د هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دا دُعا

1...ابنِ ماجہ، کتاب المناسک، باب الدعاء بعرفۃ، صفحہ:489، حدیث:3013-
2...حدائق بخشش، صفحہ:66بتقدم وتاخرٍ-

قبوله کړله او د حاجيانو د پاره ئې د بخښنې زيرے ورکړو.

ياد ساتئ! د حاجي ټول ګناهونه بخښل د قبول شوي حج جزا ده او قبول شوے حج هم هغه وي کوم چې د لـمونځونو وغيره ادا کولو سره اوکړے شي، ځکه د دې حديث مطلب دا نه دے چې ټول عمر لـمونځونه قضا کوه، شرابي، زنا کار اوسه، بيا حج اوکړه او راشه نو هر څه معاف شول بلکه وړومبے د دغه جُرمونو نه صحيح توبه اوکړه، بيا د پاره ورته مه نزدې کيږه! نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د حج په برکت به دې تيرې کوتاهيانې معاف کړے شي. [1]

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حديثِ پاک نه ميلاويدونکي 2 مدني ګلونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې ايمان تازه کوونکي حديثِ پاک باندې لږ غور اوکړئ! زمونږه آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ميدان عرفات کښې دے، دا د دعاګانو قبليدو ځائے دے، په ميدانِ عرفات کښې غوښتونکې دُعا ته په حديثِ پاک کښې **اَفضَل دُعا** فرمائيلے شوې ده. [2] په دې مبارک ځائے کښې زمونږه آقا، مونږ ته د خپلو ځانونو نه ګران آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوفرمائيله، دا دُعا د چا د پاره وه؟ د دې دُعا موضوع څه وه؟ سُبْحٰنَ الله! زمونږه او ستاسو آقا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو اُمتيانو د پاره دُعا فرمائيله.

لږ غور خو اوکړئ! دا څومره عظيم شفقت دے، زمونږه د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

---

[1] ...مرآۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:145-146بتغیر قلیل۔

[2] ...موطاامام مالک، کتاب القرآن، باب ماجاء فی الدعا، صفحہ:125، حدیث:509۔



www.dawateislami.net

مونږ ګنهګارانو باندې دا څومره عنايت دے...!! هغوئي دُنيا ته تشريف راوړلو، بيا هم د اُمت فِکر، د دُنيا نه چې ئې ظاهري پرده اوفرمائيله، بيا هم د اُمت فکر، په شبِ معراج ئې عرش ته تشريف يوړو، د **الله** پاک بارګاه ته اورسيدو، بيا هم د اُمت فِکر، د دې نه علاوه به ئې هم د شپې سر په سجده کيښودے وو او زمونږه ګنهګارانو د بخښنې د پاره به ئې اوښکې توئيولې، غرض: دا د آقا کريم، رَؤف رحيم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د خپل اُمت سره کمال محبت دے چې چرته هم وي، د خپلو ګنهګارانو اُمتيانو د بخښنې په فِکر کښې اوسي. اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ څومره ښکلې خبره کړې ده:

دُنیا، مزار، حشر، جہاں ہیں غفور ہیں
ہر منزل اپنے چاند کی منزلِ غفر کی ہے[1]

**وضاحت:** د آسمان د سپوږمۍ مختلف منزلونه دي، په دې کښې د يو منزل نوم غَفَر دے. کله چې سپوږمۍ په غَفَر کښې وي، هغه وخت ډير مبارک ګڼلے شي، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ دې طرفته اشاره کوي او فرمائي چې دا سپوږمۍ کومه چې په آسمان کښې راخيژي، دا خو کله نا کله په منزلِ غَفَر کښې وي خو د مدينے د مياشتې يعنې د سلطانِ انبيا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم خبره جُدا ده، دا هغه مبارکه سپوږمۍ ده، د کومې هر منزل چې منزلِ غَفَر دے، که په دنيا کښې وي بيا هم غَفُور (يعنې د بخښې دعا کوونکے) دے، که په مزار کښې تشريف فرما وي نو بيا هم غفور دے او په آخرت کښې به چې کله ميدانِ محشر ته تشريف راوړي نو بيا به هم د شفاعت په ذريعه د **الله** پاک په عطا سره خپل غلامان جنت ته رسوي.

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:209-

کاش! چې مونږ د خپل آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د دې اِحسانونو یاد ساتونکي جوړ شو، هغوئي د آقا کیدو باوجود هم د شپې اوښکې توئیولې او آه! مونږه...!! مونږه د غلام کیدو باوجود هم د غفلت په خوب اوده وو، افسوس! ❀ د لمونځونو پابندي نه کوو ❀ په فرائضو او واجباتو کښې رانه کوتاهیانې کیږي ❀ د دوارو جهانونو د آقا، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نافرمانیانې مونږه کوو او زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ...!! هغوئي زمونږ د پاره اوښکې توئیوي.

صد شکر خدایا تُو نے دیا، ہے رحمت والا وہ آقا
جو امت کے رنج و غم میں، راتوں کو اشک بہاتا رہے
بے کس ہُوں شہا! میں دکھیارا، لوگوں نے مجھے ہے دُھتکارا
تُو ہمدم ہے پھر کیا غم ہے، گو سارا جہاں ٹھکراتا رہے(1)

الله پاک دې مونږ ته د احساس دولت نصیب کړي، کاش چې دا احسانونه یاد ساتو او د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم رښتوني عاشقان، حقیقي فرمانبرداران جوړ شو. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کاش چې همیشه د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په تصوّر کښې اوسو!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه چې کوم حدیثِ پاک واوریدو، په هغې کښې یوه بَله ایمان تازه کوونکې خبره هم ده، یعني کله چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفے صَلَّى

1...وسائل بخشش، صفحہ:474بتقدم وتاخر۔

اللهعليهِوالِهٖوسلَّم ته د اُمت د بخښنې زيرے ميلاو شو، هغوئي مُسكي شول نو په دې باندې حضرت صِدِّيقِ اكبر او حضرت فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهما عرض اوكړو: بِاَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ اِنَّ هٰذِهٖ لَسَاعَةٌ مَاكُنْتَ تَضْحَكُ فِيْهَا يعني (ياَ رسولَ الله صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم !) زما مور پلار دې په تاسو باندې قربان شي، دا هغه ساعت دے چې په دې كښې تاسو عموماً نه مُسكي كيږئ فَمَا الَّذِيْ اَضْحَكَكَ، اَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ **الله** پاک دې تاسو هميشه مُسكي لري، نن څه اوشو چې تاسو د معمول نه خِلاف مُسكي شوئ؟

**الله! الله!** د عشق كمال ته اوګورئ! غور اوكړئ! حضرت صديق او فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهما به د مزاجِ مصطفٰے صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم سره څنګه واقفيت لرلو، هغوئي ته معلومه وه چې خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم كله مُسكے كيږي، كله نه مُسكے كيږي، لكه دې حضراتو عالي وقار به خپله پوره توجه د خپل محبوب آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم په لور ساتله.

اُن صحابہ کی خوش اَطوار نگاہوں کو سلام | جن کا مسلک تھا طوافِ رُخِ زیبا کرنا

**وضاحت:** د صحابهٔ كرامو عليهمِ الرِّضوان مباركو سترګو ته سلام، چې دغه سترګو به د سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم ديدن كولو.

د حضرت صديق او فاروق رضی اللہ عنہما په وسيله دې **الله** پاک مونږ ته هم په عشقِ رسول كښې داسې كمال نصيب كړي، كاش! چې زمونږ د توجه مركز هم هميشه خوږ آقا صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم وي، كاش! چې د هغوئي صَلَّى اللهعليهِوالِهٖوسلَّم په اداګانو د پوهيدو او هغه اداني عملي طور د اختيارولو توفيق رانصيب شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى الله عليهِ والِهٖ وسلَّم .



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| کچھ ایسا کر دے مِرے کِرْدگار آنکھوں میں | ہمیشہ نقش رہے رُوئے یار آنکھوں میں |
| انہیں نہ دیکھا تو کس کام کی ہیں یہ آنکھیں | کہ دیکھنے کی ہے ساری بہار آنکھوں میں |
| وہی مجھے نظر آئیں، جدھر نگاہ کروں | انہیں کا جلوہ رہے آشکار آنکھوں میں(1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حاجیانو د پاره د بخښنې زیرے

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! په اِبتدا کښې چې مونږه کوم حدیث شریف واوریدو، په هغې کښې د حج د فضیلت بیان هم دے چې زمونږه آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حاجیانو د بخښنې دُعا اوکړه او د هغوئي دا دُعا قبوله هم کړے شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حج ورځې دي، خومره خوش قسمته دي هغه خلق کوم چې دا وخت په مکه مکرمه کښې حاضر دي، او کومو خلقو چې [مخکښې] د حج سعادت حاصل کړے دے، کاش! چې په راتلونکي کال مونږ ته هم سعادت رانصیب شي، مونږ هم مکے مکرمې ته لاړ شو، د کعبے شریفې طواف اوکړو، د عرفات او مزدلفے قیام رانصیب شي، مِنیٰ شریف کښې د قربانۍ توفیق رانصیب شي، کاش! چې هر کال د مدینے حاضري رانصیب کیږي.

| | |
|---|---|
| یاربّ! ہمیں مکّے کی فَضاؤں میں بُلالے | اور خانۂ کعبہ کا کریں جم کے نظارا |
| ہو جائے مِری حاضِری عرفات و مِنٰی میں | اور مُزْدَلِفَہ کا بھی کروں خوب نظارا(2) |

---

1...سامانِ بخشش، صفحہ:145-146-148 ملتقطا۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:170۔



www.dawateislami.net

## د نبیانو یاد تازه کوونکې ورځې

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! اوس چې کومې ورځې دي، دا ډیرې مبارکې ورځې دي، د دې ورځو نور برکتونه په خپل ځائے اهم دي خو یوه ډیره اهمه خبره د دې ورځو دا ده چې دا ورځې د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام یاد تازه کوونکې ورځې دي. دا ورځې مونږ ته ❁ د **اللّٰه** پاک خلیل حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام رایادوي ❁حضرت اسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام رایادوي ❁ د هغوئي خوږه مور حضرت هاجره رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہَا رایادوي ❁ دې پاکو هستیانو څنګه د **اللّٰه** پاک فرمانبرداري کړې وه ❁ د **اللّٰه** پاک د رضا په خاطر ئې څنګه څنګه قربانئ ورکړې وې ❁ څومره څومره مشقتونه ئې اوچت کړي وو خو د **اللّٰه** پاک په اطاعت او د هغه په فرمانبردارئ کښې ئې لږه شان کوتاهي هم نه وه کړې، ❁ دغسې دا مبارکې ورځې مونږ ته د هغوئي هغه قربانئ رایادوي.

د دې سره سره د دې مبارکو ورځو یو بَل ډیر ښکلے، ایمان تازه کوونکے او د عشق نه ډک یادګار دے او هغه دے حَجَّةُ الوِدَاع (یعني زمونږه د آقا و مولٰی، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند مبارک کښې آخري حج مبارک په کوم کښې چې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل اُمت ته په اجتماعي طور آخري نصیحتونه کړي وو او اَلوِدَاع ئې فرمائیلې وه).

## آقا کریم څومره حجونه ادا کړی وو؟

علمائے کرام فرمائي: د هجرت نه مخکښې چې کله خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مکه مکرمه کښې وو، هغه وخت به ئې هر کال حج کولو. [1] د

1...شرح الزرقانی، المقصد التاسع، النوع السادس فی ذکر حجہ...الخ، جلد:11، صفحہ:328-



www.dawateislami.net

هجرت نه پس هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو حج ادا کړے وو. [1]

د حج فرض کیدو حکم د هجرت په نهم کال نازل شو، په دغه کال باندې هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څه حِکمتونو په وجه ځپله حج اونکړو بلکه د خپل نائب په طور ئې حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہ عَنْہ د حج امیر جوړ کړو. [2] په دې کښې اشاره وه چې د هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس به وړومبے خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہ عَنْہ وي. د دې نه پس راروان کال هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځپله هم حج ادا کړو.

## د حَجَّةُ الوِدَاع مختصر شان بیان

دا د هجرت لسم کال وو، په مدینهٔ پاک او لرې او نزدې قبائیلو کښې دا اعلان اوکړے شو چې په دې کال به کوم خوش قسمته خلق د حج سعادت حاصلولو د پاره مکے مکرمې ته ځي، د هغه حاجیانو د قافلے مشر به د دواړو جهانونو مالک او مختار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وي.

الله! الله! د مکے مکرمې سفر، هغه هم د رسولِ رحمت، شفیع اُمت صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره...!! د کعبے د طوافِ سعادتونه، د عشق او محبت نه ډک عبادت یعني د حج ادائیګي هغه هم د محبوبِ خُدا، سرورِ انبیا صَلَّی اللہ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په راهنمائیئ کښې...!! واه سُبْحٰنَ اللہ!

د دې ایمان تازه کوونکي خبر اوریدو سره صحابهٔ کرام عَلَیہِمُ الرِّضْوَان ډیر خوشحاله شول، چا چې هم واوریدل، په خپله خوش قسمتئ باندې د ناز کولو او د دې سفر د

---

1...بخاری، کتاب المغازی، باب حجۃ الوداع، صفحہ:1092، حدیث:4404-

2...شرح الزرقانی، المقصد التاسع، النوع السادس فی ذکر حجہ...الخ، جلد:11، صفحہ:327بتغیر قلیل-

سعادت حاصلولو تياري ئې شروع کړه.

څنګه څنګه چې د حج ورځې رانزدې کيدلې، د محبت او شوق جذبے زياتيدلې، د سترګو په رَپ کښې د مدينے منورے ښکلا ګانې نورې زياتې شوې، په کوڅو او بازارونو کښې ګڼه ګوڼه شوه.

واه څه ښکلې نظارے به وې! اوس عموماً حاجيان وړومبے مکے مکرمې ته ځي، د طوافِ کعبه، وقوفِ عرفات او مزدلفے وغيره يعنې د حج ادا کولو نه پس مدينۀ پاک ته حاضريږي خو د صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان د قسمت نه قربان! دا خوش قسمته حضرات د کعبے شريفې د زيارت نه مخکښې د مکي مدني سلطان صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم د ديدن خوندونه اخستو د پاره مدينۀ پاک ته حاضر شول، اوس حاجيان د شين شين ګنبد په ليدلو او د سرو زرو په جنګلو مباکو سترګې يخوي او ايمان تازه کوي، صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان پخپله د مدينے د تاجدار، د زړونو د قرار صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم په ديدن باندې سترګې يخولې.

**اَللّٰهُ اَکْبَر!** دا صحابۀ کرام عليهم الرّضوان وو، خوش قسمته...!! کاش چې د هغوئې په برکت زمونږه هُم قسمت راويښ شي! کاش چې د مدينے حاضري مو نصيب شي، اے کاش! چې کله خو مو قسمت رابيدار شي، که په وِيښه نه وي نو کم از کم چې په خوب کښې کله ديدارِ مصطفٰے رانصيب شي.

| | |
|---|---|
| يارَبِّ ! پھر اَوج پر ہمارا نصيب ہو | سُوئے مدينہ پھر ہميں جانا نصيب ہو |
| مکّہ بھی ہو نصيب، مدينہ نصيب ہو | دشتِ عرب نصيب ہو، صحرا نصيب ہو |

الله! دِيدِ گنبدِ خضرا نصيب ہو | يارَبّ! رسولِ پاک کا جلوہ نصيب ہو[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په 10 هجرئ، د ذيقعدةُ الحرام 25 تاريخ، د خيالي ورځ وه، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماسپښين لـمونځ په مسجدِ نبوي شريف کښې ادا کړو، په سفر باندې روانيدو د پاره ئې تازه غسل اوکړو، د سفر تياري اوشوه او په داسې شان سره د حج ادا کولو د پاره روان شولو چې حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي: مخکښې وروستو، ښي، ګڅ، چې کوم طرف ته به دې کتل، هر خوا به خلق ښکاريدل.

د مدينۀ پاک نه په څه فاصله باندې ذُوالحُلَيفَه نومې يو ځائے راځي، دا د مدينے والؤ مِيقات دے (يعنې د حج يا عمرے اراده لرونکي د دې ځائے نه احرام تړي). دې ځائے ته رسيدو سره د قافلے د اودرولو حکم اوشو، ولې چې سفر شروع شوے وو، ځکه د مازديګر لـمونځ د قصر کولو سره (يعنې دوه رکعته) ادا کړے شو، دا شپه رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په دغه ځائے کښې تيره کړه، په بَله ورځ د ماسپښين نه مخکښې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تازه غسل اوکړو او اِحرام ئې اوتړلو، د ماسپښين لـمونځ ئې هم دغلته ادا کړو او په خپله مبارکه اوښه قَصواء باندې تشريف فرما شولو. د روايتونو مطابق هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احرام تړلو نه پس دوه رکعته لـمونځ ادا کړو، د دې نه پس ئې تَلبِيَه (يعنې لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) اولوستله، بيا چې کله په اوښه باندې تشريف فرما شولو نو بيا ئې تَلبِيَه اولوستله، بيا ئې نزدې بَيدَاء نومې غر ته تشريف راوړلو او په اوچت آواز ئې اولوستل:

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ: 89 ملتقطًا۔

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك، لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْك، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ

وَالْمُلْكُ لَاشَرِيْكَ لَكَ

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک په بارګاه کښې به چې کله د هغه د ټولو نه محبوب ترينې هستۍ، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپله مبارکه ژبه باندې تَلبِيَه لوستلې وې نو د هغې د اوريدو سره به غرونه هم په وَجد کښې راغلي وي، هواګانې او فضاګانې به هُم خوشبودارې شوې وي.

گزرے ہو جس جگہ سے، اب بھی مہک رہی ہے

تیرا جو کارواں ہے، خوشبو کا کارواں ہے

په زرګاؤ صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چې کله د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تَلبِيَه آواز واوريدلو نو هغوئي هم په اوچت آواز تَلبِيَه اولوستله، دغسې په ټوله دَرَه کښې د لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك نعرے اوچتې شوې.

بيا د حاجيانو دا ځانګړې قافله د خپلې قافلے د سالار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په راهنمائيئ کښې په درميانه مَزَل روانه وه، چرته به اودريدل، لـمونځونه به ئې ادا کول او د مکے مکرمې په لور روان وو، ډير هغه صحابۂ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کوم چې مدينے منورے ته نه وو حاضر شوي، هغوئي په لار کښې شامليدل، آخر په 4 ذُوالحج، د ګُل په ورځ مکے مکرمې ته نزدې ذِي طُوىٰ دَرې ته اورسيدل، دا شپه ئې دلته تيره کړه، په بَله ورځ د سحر لـمونځ دلته ادا کړے شو، بيا خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکۂ پاک په احترام کښې غسل اوکړو او د ثَنِيَّةُ الْعُلْيا يعنې د حَجُون نومې اديرے [قبرستان] له اړخه مکے مکرمې ته داخل شولو.



www.dawateislami.net

**الله! الله!** چې کله د کعبے ايمان، مکي مدني سلطان صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم سترګو کعبه شريفه ليدلې وي، څومره ښکلې نظاره به وه، هغه کعبه کومه چې د دواړو جهانو د سلطان صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم د وِلادت په وخت سلامئ ته ښکته شوې وه، هُغه کعبه کومه چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم د باطِل د ګند نه صفا کړې وه بلکه حق خو دا دے چې کعبه هم د چا په وسيله کعبه جوړه شوې دهه، نن چې کله کعبے شريفې ته د هُم هغه دواړو جهانونو د رحمت، مکي مدني سلطان صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم قرب نصيب شوے وي، يقيناً کعبه به هم په وَجد کښې راغلې وي، نن به کعبے هم په خپل قسمت باندې ناز کړے وي.

اس دِل کے فِدا جو تری دِید کا طالِب | ان آنکھوں کے قربان جنہیں تُو نظر آیا
سجدہ کو جُھکا جائے براہیم میں کعبہ | جب قبلۂ کونَین کا اَبْرُو نظر آیا

خير! خوږ آقا، احمدِ مجتبیٰ صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم چې کعبه شريفه اوليدله نو دا دُعا ئې اولوستله:

اَللّٰهُمَّ زِدْ هٰذَا الْبَيْتَ تَشْرِيْفًا وَّ تَعْظِيْمًا وَّ مَهَابَةً وَّ بِرًّا

(**ترجمه:** اے الله پاکه! د دې کور په شرف، تعظيم، رُعب او خير کښې زياتوالے اوفرمائے)

بيا هغوئي صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم وړومبے عمره ادا کړله، بيا ئې د حج په ورځو کښې حج ادا کړو. (1) د رواياتو مطابق کومو خوش قسمتو صحابۂ کرامو علیھم الرّضوان چې په دغه کال د حج سعادت حاصل کړے وو، د هغوئي شمير زيات و کم يو لاکھ 24 زره يا د دې نه

1...شرح الزرقانی، المقصد التاسع، النوع السادس فی ذکر حجہ...الخ، جلد:11، صفحہ:327تا378 خلاصۃً-

هم زيات وو. [1]

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حَجَّةُ الوِدَاع نه د زده كولو خبري

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حَجَّةُ الوِدَاع د سيرتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير اهم ترين اړخ دے، په دې كښې زمونږ د زدكړې د پاره ډير څه دي، د ډيرو عقيدو او اعمالو اِصلاح مو كيږي. راځئ چې په دې تعلق سره يو څو ايمان تازه كوونكي واقعات او د دې نه ميلاويدونكي درسونه واورو:

## په حَجَّةُ الوِدَاع كښې د انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام شركت

په مسلم شريف كښې روايت دے، صحابئ رسول حضرت ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د حاجيانو دا څانګړې قافله د سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په راهنمائيئ كښې د مدينے منورے نه مكے مكرمې ته روانه وه، په لاره كښې اَزرَق نومې يوه دَرَه راغله. سركارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا كومه دَرَه ده؟ عرض اوكړے شو: وَادِئِ اَزْرَق . اوئې فرمائيل: زه وينم چې د **الله** پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام خپلې ګوتې په غوږونو باندې ايښودې دي او تلبيه (يعني لَبَّيْك اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) وائي او په دې دَرَه باندې تيريږي. حضرت ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بيا مونږ نور مخكښې لاړو، تللو تللو چې يو كنډؤ راغے نو د مدينے سركار، د زړونو قرار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا كوم ځائے دے؟ عرض اوكړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ

[1]...شرح الزرقانی، کتاب المغازی، حجۃ الوداع، جلد:4، صفحہ:146-

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا هَرْشٰی نومې كندؤ دے. اوئې فرمائيل: زه وينم چې د **اللّٰه** پاک نبي حضرت يُونس عَلَیْہِ السَّلَام په سَره اوښه باندې ناست دے، هغوئي د وَرَيْئ جُبّه اغوستې ده، د اوښې مُهار [جيلب] د كجورې د [ونې] د ريشو نه جوړ دے او هغوئي تَلبِيَه (يعنې لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) لولي او تيريږي. (1)

سُبْحٰنَ الله! خومره ښكلے شان دے د انبيائے كرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام...!! د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ولې چې دا حج د حضور سَيِّدُ الانبيا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آخري حج مبارک وو، ځكه انبيائے كرام عَلَیْہِمُ السَّلَام د بركت حاصلولو د پاره په دې كښې شريک شول او حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي په خپلو ستركو اوليدل. (2)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې نه معلومه شوه: انبيائے كرام عَلَیْہِمُ السَّلَام په خپلو مزارونو كښې ژوندي دي، چې چرته غواړي سيل كولو له يعنې ځي راځي او دا هم معلومه شوه چې **اللّٰه** پاک انبيائے كرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام ته د غيبو عِلم عطا كړے دے، دوئي په خپلو خپلو مزارونو كښې، په بَله دُنيا يعني عالَمِ برزخ كښې تشريف فرما دي او دوئي ته هلته پته لګي چې دا وخت په دنيا كښې چرته، څه كيږي. اوګورئ! كله چې مكي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج د پاره تشريف يوړلو، انبيائے كرام عَلَیْہِمُ السَّلَام د هغوئي په اِقتدا كښې د لـمونځ كولو د پاره مخكښې مسجدِ اَقصیٰ ته اورسيدل او كله چې هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حج د پاره تشريف وړلو، انبيائے كرام عَلَیْہِمُ السَّلَام د دې نه هم خبر شول، هغوئي ته دا پته هم اولګيده چې دا د سركارِ علي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

1...مسلم، كتاب الايمان، باب الاسراء برسول الله...الخ، صفحه:82، حديث:166-

2...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:589بتغير قليل-

په ظاهري ژوند مبارک کښې آخري حج دے، څکه ئې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د حج د سعادت حاصلولو د پاره هم تشریف راوړلو.

سُبْحٰنَ الله! سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره ښکلې خبره لیکلې ده:

| | |
|---|---|
| انبیا کو بھی اَجَل آنی ہے | مگر ایسی کہ فقط آنی ہے |
| پھر اسی آن کے بعد اُن کی حیات | مثلِ سابق وہی جسمانی ہے[1] |

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په بارګاه کښې هم مرګ حاضري کوي خو داسې چې د دوئي د پاره مرګ صرف آنِي (یعنې د یوې لحظې د پاره) وي، بیا دوئي ته بیرته د مخکښې په شان، دنیائي، جسماني ژوند عطا کړے شي.

## انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام ژوندي دي

د **ابنِ ماجه شریف** حدیث دے، صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: یا رَسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د وِصالِ ظاهري نه پس به درودِ پاک تاسو ته څنګه در رسي؟ اوئې فرمائیل: اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ **الله** پاک د انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام بدن خوړل په زمکه باندې حرام کړے دے.[2] او یو ډیر مشهور حدیثِ پاک دے، دا بې شمیره مُحَدِّثینو روایت کړے دے چې د **الله** پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلْاَنْبِيَآءُ اَحْيَآءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ یعنې انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام په خپلو مزاراتو کښې ژوندي دي، لمونځ کوي.[3]

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:372۔

2...ابنِ ماجہ، کتاب الجنائز، باب ذکر وفاتہ...الخ، صفحہ:263، حدیث:1636۔

3...مسندِ بزّار، جلد:13، صفحہ:299، حدیث:6888۔



www.dawateislami.net

تُو زنده ہے وَالله! تُو زنده ہے وَالله! | مرے چشمِ عالم سے چھپ جانے والے[1]

## والِدِين كريمين ئې ژوندي كړل او كلمه ئې ورته اووئيله

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د حَجَّةُ الوِدَاع په موقع باندې ډيره ايمان تازه كوونكې واقعه اوشوه، ډيرو محدثينو، علماو او اوليائے كرامو رحمۃ اللہ علیہم دا واقعه ذِكر كړې هم ده او صحيح ئې هم منلې ده. هغه واقعه څه ده؟ راځئ! چې واورو: د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صديقه رضی اللہ عنہا فرمائي: د حَجَّةُ الوِدَاع په موقع باندې رسولُ الله صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم په يو ځائے باندې تيريدلو، زه هم ورسره ووم، سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم هغه وخت د سخت غم په حالت كښې وو او اوښكې ئې توئيولې، هغوئي صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم چې مې په ژړا اوليدلو نو زه هم په ژړا شوم، بيا هغوئي صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم د سورلئ نه راكوز شولو او يو اړخ ته ئې تشريف يوړلو او ما ته ئې اوفرمائيل: حُميرا! هُم دلته حصاره شه. ما اوښ ته ډډه اووهله او كښيناستم، حضورِ اقدس صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم كافي وخت پس خوشحاله خوشحاله په مُسكا مُسكا تشريف راوړلو. ما عرض اوكړو: يَا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم ! زما مور پلار په تاسو قربان...!! د تللو په وخت تاسو ډير غمژن وئ، واپس مو په خوشحالئ خوشحالئ تشريف راوړلو، د دې څه وجه ده؟ اوئې فرمائيل: زه د خپلې مور (حضرت آمنه رضی اللہ عنہا) مزار ته تلے ووم، ما دُعا اوكړه نو الله پاک زما مور ژوندئ كړه، هغې په ما باندې ايمان راوړلو او بيا ئې مزار ته تشريف يوړلو. [2]

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:158۔

2...الروض الانف، وفاۃ آمنہ وحال رسول اللہ...الخ، جلد:1، صفحہ:330۔



www.dawateislami.net

حضرت عُروه رضی اللہ عنہ د خپل والد نه روایت کوي چې اُمُّ المُؤمِنِین حضرت عائشه صدیقه رضی اللہ عنہا اوفرمائیل: بے شکه د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم په دُعا باندې **اللّٰه** پاک حضرت عبدُ الله او حضرت آمنه رضی اللہ عنہما ژوندي کړل، هغوئي دواړو ایمان راوړو او بیا ئې خپلو خپلو مزارونو کښې آرام فرما شول. [1]

| | |
|---|---|
| صدقہ تم پہ ہوں دِل و جاں آمنہ | تم نے بخشا ہم کو اِیماں آمنہ |
| جو مِلا جس کو مِلا تم سے مِلا | دِین و ایماں، عِلْم و عرفاں آمنہ |
| کُل جہاں کی مائیں ہوں تم پر فِدا | تم مُحَمَّد کی بنی ماں آمنہ |

چا عاشقِ رسول د مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د والدِ محترم حضرت عبد الله رضی اللہ عنہ په شان کښې ډیر ښکلے کلام لیکلے دے:

| | |
|---|---|
| خُدائے پاک کے حامِد ہیں پیارے عبدالله | بڑے ہی عابِد و زاہِد ہیں پیارے عبدالله |
| خدا نے بھیج کے نورِ نبی کو آپ کے گھر | بتا دیا ہمیں راشد ہیں پیارے عبدالله |
| شک ان کے ایماں پہ کرنے سے پہلے یاد رکھو | مرے رسول کے والِد ہیں پیارے عبدالله |

## آیا مړي ژوندي کول ممکن دي...؟

سُبْحٰنَ الله! **خوږ و او محترمو اسلامي وروڼو!** د مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم د والدینو هم ځومره ښکلے شان دے...!! یقیناً حضرت عبد الله او حضرت آمنه رضی اللہ عنہا د دنیا خوش قسمت ترین والدین دي چې هغوئي ته د محبوبِ خُدا، امامُ الانبیا صلی اللہ علیہ والہ وسلم د والدین کیدلو شرف حاصل شو. کیدے شي چې د چا په زړه کښې خیال راغلے وي چې څوک د دنیا نه لاړ شي، هغوئي بیرته څنګه ژوندي کیدے شي چې کلمه اُووائي؟

1...الروض الانف، وفاۃ آمنہ وحال رسول اللہ...الخ، جلد:1، صفحہ:330۔



www.dawateislami.net

ياد ساتئ! د مرګ نه پس بيرته په دې دنيا کښې ژوندي کيدل ناممکن نه دي، دا بالکل کيدے شي بلکه شوي هم دي، په قرآنِ کريم کښې داسې څومره واقعات موجود دي ❁ د قرآنِ کريم دويم او د ټولو نه غټ سورت سورهٔ بقره کښې په په وړومبئ سيپاره کښې يوه واقعه موجوده ده، په دغه واقعه کښې هم دا خبره بيان شوې ده چې د بني اسرائيلو يو کَس قتل کړے شوے وو، د هغه د قاتل پته نه لګيده، حضرت موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام له مقدمه راوړے شوه، بني اسرائيلو ته د يوې غوا ذبح کولو حکم اوشو، کله چې هغوئي يوه خاص قسم غوا ذبح کړه او د هغې غوا د غوښې يوه ټوټه ئې د مړي د بدن سره اولګوله، د هغې په برکت سره هغه مړے ژوندے شو او هغه د خپل قاتل نوم هم اوښودو. ❁ دغه شان په دويمه سيپاره کښې د بني اسرائيلو د زرګاؤ کسانو د مړه کيدو نه پس د بيا ژوندي کيدو واقعه موجود ده ❁ بلکه د **الله** پاک د نبي حضرت عيسیٰ عَلَيهِ السَّلَام مشهوره معجزه ده چې هغوئي به مَړي ژوندي کول. چې د حضرت عيسیٰ عَلَيهِ السَّلَام دا شان دے چې د **الله** پاک په عطا سره مړي ژوندي کولے شي نو د **محبوبِ** خُدا، امامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څنګه شان وي...؟ د هغوئي په دُعا باندې د هغوئي د والدينو ژوندي کيدل کومه د عقل نه خلاف خبره ده. غرض: بے شکه د **الله** پاک په عطا سره **محبوبِ** رحمان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل والدينِ کريمين ژوندي کړل او هغوئي ته ئې کلمه هم اووئيله.

## والدينِ کريمين ئې صحابيان جوړ کړل

کيدے شي چې د چا په زړه کښې دا خيال هُم راځي چې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل والدين ژوندي کړل او کلمه ئې ورته اووئيله نو د دې

مطلب دا شو چې هغه حضرات مخکښې مسلمانان نه وو؟

مَعَاذَ الله! داسې نه ده. رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل والدين ژوندي کړل، بيا ئې هغوئي ته کلمه هم اوونيله خو د دې مقصد د هغوئي مسلمانول نه وو، هغوئي خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مخکښې نه مسلمانان وو، په خپل ژوند مبارک کښې د الله پاک وَحدَہٗ لا شریك [يعني يو] منونکي او د ملّتِ ابراهيمي پيروي کوونکي وو. سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او نور ډير علمائے کرام فرمائي: په اصل کښې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل والدينِ کريمين د دې د پاره ژوندي کړل او کلمه ئې ورته اوونيله چې هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د دوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابيان جوړ شي. (1)

## موئے مبارک ئې تقسم کړل

په مُسلِم شريف کښې دي، حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي: د حَجَّةُ الوِدَاع په موقع باندې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِنیٰ ته تشريف راوړلو، جَمْرَةُ الْعَقَبَه ئې په کاڼو اُوويشتو بيا ئې قرباني اوکړه او خپل د اوسيدو ځائے ته ئې تشريف راوړلو، بيا خوږ آقا ، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حجام را اوبللو او د خپل سر مبارک د ښي اړخ نه ئې ويښته اُوخرِئيل او حضرت ابو طلحه انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْه له ئې ورکړل بيا ئې د سر د زړه طرف ته [حصّے] نه ويښته مبارک اُوخرئيل او هغه ئې هم حضرت ابو طلحه انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْه له ورکړل او اوئې فرمائيل: **دا ټول ويښته په خلقو باندې تقسيم کړه!** (2) [خوږو اسلامي ورونړو! د زړه طرف نه مُراد دا چې دا د اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ

1...فتاوی رضويه، جلد:30، صفحه:285-286ماخوذًا۔

2...مسلم، كتاب الحج، باب بيان ان السنة يوم النحر...الخ، صفحه:485، حديث:1305بتغير قليل۔



www.dawateislami.net

بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه تربیت دے چې هغوئي د انبیائے کرامو علیهم الصّلاةُ والسّلام دپاره د ادب په طور د ګڅ یعنې اُلټا لفظ نه استعمالوي، بلکه د زړه طرف ورته وائي، سُبْحٰنَ الله]

## موئے مبارک ئې ولې تقسیم کړل...؟

علّامه زُرقاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل موئے مبارک په صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان باندې ځکه تقسیم کړل چې دا د هغوئي سره د برکت په طور پاتې شي او د دې نه لګه چې د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصال د وخت رانزدې کیدو په لور هم اشاره اوفرمائیله. (1)

## د تبرک ترغیب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم موئے مبارک تقسیم کړل، د دې نه معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله هم دا خبره خوښوله چې اُمَّت د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک یادګارونه ځان سره سنبال کړي او د دې نه برکتونه حاصلوي، ځکه ئې په صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان باندې د برکت او یادګار په طور خپل موئے مبارک تقسیم کړل.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان د دې تبرکاتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه قدر اوکړو، دا ئې سنبال کړل او په ادب او حفاظت سره ئې اوساتل او د دې نه به ئې برکت حاصلولو، بیا د هغوئي نه هغه موئے مبارک وروستو راتلونکو ته منتقل شول او بیا دغه موئے مبارک د یوې پیړۍ نه بلې پیړۍ ته منتقل کیدل تر دې چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن هم د ډیرو عاشقانِ رسول سره محفوظ دي.

---

1...شرح الزرقانی، المقصد التاسع، النوع السادس فی ذکر حجه...الخ، جلد:11، صفحه:437۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خوږ آقا ته د غيبو عِلم وو

په سُنَنُ الكُبرىٰ كښې د حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ نه روايت دے، فرمائي چې خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مِنیٰ شريف كښې وو، چې دا سورت نازِل شو:

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَ الْفَتْحُ ﴿۱﴾ وَ رَاَیْتَ النَّاسَ یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ﴿۲﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَ اسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ﴿۳﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: چې كله به د الله مدد او فتح راشي (۱) او ته به خلق وِينې چې د الله په دين كښې ډلې ډلې داخليږي(۲) نو د خپل رب په تعريف كولو د هغه پاكي بيان كړه او د هغه نه بخښنه اوغواړه، بيشكه هغه ډير توبه قبلوونكے دے(۳)

(پاره:30، النصر:31)

د دې سُورت د نازليدو سره خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پته اولګيده چې د دُنيا نه د رُخصتيدو وخت رانزدې شوے دے، نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې اوښې قَصواء راوستو حكم اوكړو، اُوښه حاضره كړے شوه، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې تشريف فرما شولو او خلقو ته ئې خطبه ارشاد كړه. [1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دې روايت نه معلومه شوه چې سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عِلمِ غيب وركړے شوے وو. اوګورئ! هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ربيعُ الاَوَّل شريف كښې وفات شول او حَجَّةُ الوِدَاع په ذُوالحج كښې شوې

1...سنن الکبریٰ للبیہقی، کتاب الحج، جماع ابواب دخول مکہ، جلد:5، صفحہ:348، حدیث:9682 بتغیر قلیل۔



www.dawateislami.net

وه، یعني د خپل وفات شریف نه تقریباً 3 میاشتې مخکښې هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته معلومه شوې وه چې د رَبِّ کریم په بارګاه کښې د حاضرۍ وخت رانزدې شوے دے. دا خو د دې حدیث شریف خبره ده، ګنې په قرآني آیتونو او نورو ډیرو حدیثونو کښې واضحه بیان دے چې د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د مَاکَانَ وَ مَایَکُوْنُ (یعني د اوَلې ورځې نه تر قیامته پورې چې څه شوې دي او څه به کیږي د ټولو) عِلم ورکړے شوے دے.

په سیپاره 27، سُورةُالرَّحمٰن، آیت 3 او 4 کښې ارشاد کیږي:

خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ ۙ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الۡبَیَانَ ﴿۴﴾

[مَفهُوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: د انسانیت ځان مُحَمَّد ئې پیدا کړو، د مَاکَانَ وَمَا یَکُون بیان ئې ورزده کړو.

تقریباً 924 کاله مخکښې تیر شوے بزرګ، مشهور مفسر او محدث مُحیُ السُّنَّه (یعني سُنت ژوندے کوونکے) علّامه حسین بن مسعود بَغوي رَحمَةُ اللهِ عَلَیه (سنِ وفات: 516 هجري) د دې آیت لاندې فرمائي: دلته د اَلۡاِنۡسَانَ نه د انسانیت ځان یعني محبوبِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مراد دے او د اَلۡبَیَانَ نه د مَاکَانَ وَمَایَکُوْن بیان مُراد دے ځکه چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د تیرو شوو او راروانو [کارونو] او د قیامت د ورځې خبرونه ورکول. [1]

## د خطبۀ حَجَّةُ الوِدَاع نه یو نصیحت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د حَجَّةُ الوِدَاع په موقع باندې خوږ آقا، مکي مدني

---

1... تفسیرِ بغوی، پاره:28، الرحمٰن، زیرِ آیت:3-4، جلد:4، صفحہ:283-

مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم 3 الوداعي خطبے هم ارشاد اوفرمائیلې. یوه خطبه ئې په میدانِ عرفات کښې او 2 ئې په مِنیٰ شریف کښې اوفرمائیلې. په دې خطبو کښې هغوئي صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د اسلامي تعلیماتو خلاصه بیان کړه او د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان په ذریعه ئې ټول اُمت ته نصیحتونه ارشاد اوفرمائیل. ډیرې ایمان تازه کوونکې خطبے دي. راځئ چې د دې خطبو نه د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم صرف یو نصیحت واورو:

## د مسلمان عزت کوئ...!

د حَجَّةُ الوِدَاع موقع وه، د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په مِنیٰ شریف کښې خطبه ارشاد اوفرمائیله، په دې خطبه کښې هغوئي صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان ته اوفرمائیل: اَیُّ شَهْرٍ هٰذَا؟ دا کومه میاشت ده؟ (بالکل واضحه خبره وه، د حج موقع وه او حج په ذُوالحِجَّةُ الحرام کښې ادا کیږي خو د صحابه کرامو علیهم الرّضوان ادب ته اوګورئ!) د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان ګمان شو چې کیدے شي حضور صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د دې میاشتې نوم بدلول غواړي، ځکه ئې عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم **الله** پاک او د هغه رسول صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ښه پوهیږي. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم اوفرمائیل: اَلَیْسَ ذُوالْحِجَّةِ؟ آیا دا د ذُوالحج میاشت نه ده؟ صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان عرض اوکړو: ولې نه (یعني آو جي! هم د ذُوالحج میاشت ده). رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم دویمه پوښتنه اوکړه: اَیُّ بَلَدٍ هٰذَا؟ دا کوم یو ښار دے؟ (دا هم بالکل واضحه خبره وه، حج هم په مکه کښې ادا کیږي خو صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان په دې ځل هم د ادب کولو سره) عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ **الله** پاک او د هغه رسول صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ښه پوهیږي. خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم اوفرمائیل: اَلَیْسَ الْبَلَدَةَ؟ آیا دا بَلَدَه

(يعنې مکه مکرمه) نه ده؟ ټولو عرض اوکړو: ولې نه (بالکل دا مکه مکرمه ده). رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دريمه پوښتنه اوکړه: اَیُّ يَوْمٍ هٰذَا؟ دا کومه ورځ ده؟ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په دې ځل هم عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ **الله** پاک او د هغه رسول ښه پوهيږي. رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ آيا دا يَومُ النَحر نه ده؟ ټولو عرض اوکړو: ولې نه، (دا يومُ النحر يعنې د قربانۍ ورځ ده).

بيا رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه لکه څنګه چې د دې ورځې، د دې ښار او د دې مياشتې حُرمت دے، ستاسو وينه، ستاسو مال او ستاسو عزتونه هم داسې په يو بَل باندې حرام دي. **(1)**

**الله! الله!** **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې مبارکې خطبے نه اندازه اولګوئ چې د يو مسلمان د ځان، د هغه د مال او د هغه د عزت او آبَرُو څومره اهميت دے. علمائے کرام فرمائي: رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې ځائے کښې د مسلمان ځان او مال او عزت ته د مکے مکرمې د حُرمت په شان اوفرمائيل، مطلب دا دے چې څنګه په مکه مکرمه کښې، د حج په تاريخونو کښې، د احرام په حالت کښې يوه ګناه د ډيرو ګناهونو مجموعه ده چې په دې کښې د **الله** پاک نافرماني هم ده، د مکے مکرمې، د حج د ورځو، د احرام او د حرمت والا مياشتو بے ادبي هم ده، دغسې د يو مسلمان عزت ته نقصان رَسَول، چا ته ناحقه تکليف رَسَوَل، د چا مال ناحقه قبضه کول هُم د ډيرو جرمونو مجموعه ده، يو خو په دې کښې د مسلمان حق وهل دي، د هغه زړه آزارول هم دي، بيا په دې کښې د **الله**

---

1...بخاری، کتاب المغازی، باب حجۃ الوداع، صفحہ:1092، حدیث:4406ملتقطاً۔

پاک نافرماني هم ده او ورسره ورسره د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړه آزارول هم دي ځکه چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خپل اُمَّت ډیر ګران دے، څوک چې د هغوئي یو اُمتي ته تکلیف اورسوي، هغه هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څنګه ګران [او خوښ] کیدے شي. [1] هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو ارشاد فرمائیلے دے: مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذٰنِیْ یعني چا چې مسلمان ته تکلیف اورسولو، هغه ما ته تکلیف را اورسوو. [2]

خدایا! کسی کا نہ دل میں دکھاؤں | اَماں تیرے اَبَدی عذابوں سے پاؤں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

الله پاک دې مونږه خلقو ته د تکلیف رسولو نه، د خلقو د حق وهلو نه او د خلقو د عزت خرابولو نه په امان کښې اوساتي. اے عاشقانِ رَسُول! په اِسلام کښې د مسلمانانو ځومره عزت دے، د مسلمانانو ورونړو څومره احترام دے، که په دې ځان پوهه کول غواړئ نو د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله احترام مسلم او د مَكْتَبَةُ الْمَدِينَه کتاب تکلیف نه دیجئے اولولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ډیر عِلم دِین زده کولو کښې به کامیاب شئ.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په 14 ذوالحجة الحرام یومِ ابو عطار مناوهلے کیږي. د برکت حاصلولو د پاره د اوسني وخت د عظیم علمي او روحاني شخصیت شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د والدِ محترم د خه ذکرِ خیر اوریدلو سعادت حاصلوو.

---

1...مرآۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:180بتغیر قلیل-
2... معجمِ اوسط، جلد:2، صفحہ:386، حدیث:3607-



www.dawateislami.net

## د امیرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ والدِ محترم

د امیرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ والد حاجي عبد الرحمان قادري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په شریعت باندې عمل کوونکے پرهیزګاره انسان وو. اکثر به ئې په ګرځیدو راګرځیدو کښې نظر ښکته ساتلو، هغوئي ته ډیر حدیثونه یاد وو. د دنیائي مال او دولت جمع کولو لالچ به ئې نه کولو. په سلسلۀ عالیه قادِریه کښې ئې بیعت کړے وو. (1)

## د قصیدۀ غوثیه برکت

په 1979ء کښې چې کله شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ **کولـمبو** ته تشریف یوړو نو معلومه شوه چې د هاغه ځائے خلق د دوئي د والد صاحب نه ډیر متاثره وو، ځکه چې هغوئي هلته د عالیشان حنفي میمن مسجد انتظامات سنبال کړي وو او د جُمات ئې ډیر خدمت هم کړے وو. کولـمبو کښې د پاتې کیدو په وخت د امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ [د مور د طرفه] د ترور خاوند په خبرو اترو کښې اووئیل چې ما پخپله په خپلو سترګو لیدلي دي چې کله به په کټ کښې ستاسو والد صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ناست وو او **قصیدۀ غوثیه** به ئې لوستله نو د هغوئي کټ به د زمکې نه اوچتیدلو. (2)

## د سفرِ حج په دوران کښې وفات شولو

د امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ عمر تقریباً 2 کاله وو چې د هغوئي والدِ محترم په کال 1370ھ کښې د حج په سفر روان شو. د حج په ورځو کښې په مِنیٰ کښې ډیره زیاته ګرمه هوا چلیدلې وه چې د هغې په وجه ډیر حاجیان وفات شوي وو، په هغوئي کښې

---

1...تعارف امیرِ اہل سنت، صفحہ:11۔
2...تعارف امیرِ اہل سنت، صفحہ:11۔



www.dawateislami.net

حاجي عبد الرحمان رحمۃُاللہِ علیہ هم شامل وو كوم چې د مختصرې بيمارئ نه پس په 14 ذوالحجة الحرام كال 1370ھ كښې د دې فاني دنيا نه رخصت شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رَاجِعُوْن

حاجي عبد الرحمان رحمۃُاللہِ علیہ خومره خوش قسمته وو چې هغوئي د حج د سفر په دوران كښې د دې دنيا نه رخصت شولو. [1] د سفرِ حج په وخت د وفات كيدونكي په باره كښې رحمتِ عالم، نورِ مُجَسَّم صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د حج د پاره اووتو او مړ شو، تر قيامته پورې به د هغه د پاره د حج ثواب ليكلے كيږي او څوک چې د عمرے د پاره اووتو او مړ شو د هغه د پاره به تر قيامته پورې د عمرے ثواب ليكلے كيږي.

په يو بَل ځائے كښې اِرشاد فرمائي: څوک چې په دې لاره كښې يعنې د حج يا عمرے د پاره اووتو او مړ شو د هغه سره به حساب نه كيږي، هغه ته به وئيلے شي: ته جنت ته داخل شه. [2]

طیبہ میں مر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند | سیدھی سڑک یہ شہر شفاعت نگر کی ہے [3]

## ايمان تازه كوونكے خوب

د امير اهلسنت دامت بركاتهم العاليه د مشرې خور بيان دے چې د بابا جان رحمۃُاللہِ علیہ د وفات كيدو نه پس ما يو ځل دا ايمان تازه كوونكے خوب اوليدو چې بابا جان رحمۃُاللہِ علیہ د ډير نوراني مخ والا بزرګ سره تشريف راوړلو، زما لاس ئې اونيولو او اوئې وئيل: لورې! تهٔ دوئي پيژنې؟ دا زمونږه مدني آقا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم دے، بيا

---

1...تعارف امیرِ اہل سنت، صفحہ:11۔

2...مسند ابی یعلٰی، مسند عائشہ، جلد:4، صفحہ:41، حدیث:4607۔

3...حدائقِ بخشش، صفحہ:222۔



www.dawateislami.net

هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ما ډېر شفقت اوفرمائيلو او اوئې فرمائيل: **تهٔ ډېره د نصيب والا ئې.** [1]

سنا ہے آپ ہر عاشق کے گھر تشریف لاتے ہیں | میرے گھر میں بھی ہوجائے چراغاں یارسولَ اللہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيکئ دعوت عام کولو د پاره او د با اخلاقه او باکرداره، نيک او ښه مسلمان جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته اوسئ او د دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو کښې ډېره ډېره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیۡم! په ژوند کښې به مو سپرلے راشي، کردار به مو صفا ستهرا شي او د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مدني قافله** هم ده. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو!

## د شرابي اصلاح اوشوه

د هند د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې شراب څښل، عياشي، کنزلې کول، والدين او محلے والا تنګول، جواري کول زما معمول وو. يوه ورځ د دعوتِ اسلامي يو ذمه وار اسلامي ورور ما ته په مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو. د هغه په ترغيب باندې زه د دريو ورځو د مدني قافلے مسافر جوړ شوم. د مدني قافلے په برکت باندې ما د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه اوکړه

1...تعارف امیرِ اہلِ سنت، صفحہ:12۔



www.dawateislami.net

او د لـمونځونو پابندي كولو والا، د سحر د لـمونځ د پاره د خلقو راپاڅولو والا او خلق د مدني قافلو مسافر جوړولو والا جوړ شوم. (1)

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| دل پہ گر زَنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو | داغ سارے دُھلیں ، قافلے میں چلو(2) |

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قُرآن مَعَ تَفسِير ايپلي كيشن

اے عاشقانِ رسول! اَلحمدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي مونږ ته د موبائل په ذريعه هم د علمِ دين زده كولو او د نيكۍ دعوت عام كولو موقعے راكوي. د دَعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي كيشن جاري كړے شوے دے، د كوم نوم چې ***Quran with Tafseer*** (قرآن مع تفسير) دے. دا ايپلي كيشن د ***Android*** او ***IOS*** دواړه قسم ډيوائسز په ذريعه ډاؤنلوډ كيدے او استعماليدے شي، دې ايپلي كيشن كښې ❁ پوره قرآن كريم ❁ د امامِ اهلِسنت، شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ليكلے شوې ترجمهٔ كنز الايمان ❁ د دورِ جديد د تقاضو مطابق ډيره آسانه ترجمه، ترجمهٔ كنز العرفان او ❁ آسان انداز كښې ليكلے شوے، د اُردو د ټولو نه جديد (***Latest***) تفسير، تفسيرِ صراط الجنان شامل دے. تاسو چې چرته هم ئې، د دې ايپلي كيشن په مدد سره اصانۍ سره د قرآنِ مجيد ترجمه او تفسير باندې ځان پوهه كولے شئ او دې سره سره قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير په واټس ايپ (***Whats App***)، فيس بُك (***Facebook***) وغيره

---

1...بركاتِ مكه ومدينه، صفحه:18۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:669–672ملتقطًا۔

هُم خپلو ملګرو ته لیږلے شئ. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ، عِلمِ دین زده کړئ او نورو ته ئې اورسوئ او د نیکئ د دعوت عام کولو ثواب اوګټئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د بعضو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِى فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د قرآنِ کریم تلاوت کول سُنَّت عمل دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارک: (1): زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے. [2] (2): څوک چې د شپې **200** آیتونه تلاوت کړي، د هغه نوم به په عبادت ګُزارو کښې اولیکلے شي او څوک چې **400** آیتونه تلاوت کړي، د هغه د پاره به یو قِنطَار اَجر لیکلے کیږي، یو قِنطَار د **120** قیراط برابر دے او یو قیراط د اُحُد د غر همره دے. [3]

اے عاشقانِ رَسُول! د قرآنِ کریم تلاوت کول سُنَّت عمل دے. زمونږه خوږ آقا، مکي مدني

---

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2... شُعَبُ الِایمان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004-
3... شُعَبُ الِایمان، جلد:2، صفحہ:401، حدیث:2197-

مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم ډير زيات تلاوت کولو ❁ حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي: يو څيز به هم هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه نهٔ منع کولو ❁ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شپې په لـمونځ کښې کله ټوله سُورۀ بقره او سُورۀ آلِ عمران تلاوت کولو ❁ هره شپه به ئې د اُوده کيدلو نه مخکښې د سُوْرَۀ سجده، سُورَۀ مُلک، سورۀ بنی اسرائيل، سورۀ زُمَر، سُوْرَۀ کافرون، سُوْرَۀ فَلَق او سُوْرَۀ نَاس تلاوت کولو.

الله پاک دې مونږ له هم د ډير ډير تلاوت کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا | شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د **بهارِ شريعت** جلد 3 نه شپاړسمه حصه او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب **550 سنّتين اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اِسلامي مدنی قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

---

1 ... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2 ... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنه تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنهم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1 ...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2 ...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥